ډاکټر نبي مصداق ۲۰۱۱/۰۴/۱۳

# افغان ویاړلی تاریخ او امریکایي هډې؟

د امریکا د یوه تن، سناتورګرهم، په افغانستان کې د هډو له جوړولو خبرو نه وروسته د افغانانو په منځ کې په دې موضوع تود بحث روان دی. پدې هکله ځینو افغانانو ته داسې احساس پیدا شوی چې که امریکا ووځي داخلي دښمنان به مو په پاکستان او ایران خرڅ کـړي .خو ددې ملکو بیرحمانه سلوک، زمونږ د خلکو او ګران افغانستان په مقابل کې، نن زمونږ ټول ملت دهغو پر ضد را پارولی دی. برسیره پر دې پاکستان نشي کولا ی چې په کراچې کې د مهاجرو، وزیرستان کې طالبانو اوبلوچستان آزادي غوښتونکو مخه ونیسي نو څنګه به وکولای شي چې د افغانستان په ۳۵ ملیونو وګړو، چې تار او پود یې اوس ورته معلوم شوی ځان تحمیل کړي؟ په همدې ډول دایران خون خواره آخوندان چې دوه ملیونو مهاجرو افغانانو د هغوی بې رحمي او تعصب لیدلی او هم په متداوم ډول زمونږ افغانان چې د خوارۍ او غریبۍ لپاره هلته ځی په توپکو ولي او اعدامو یې، څنګه به وکولای شي چې په افغانستان خیټه واچوي؟ په داسې حال کې چې دا قاتل، په نوم مسلمان رژیم، نه په داخل کې د خپلو خلکو ملاتړ لري اونه په باندې نې نړې کې کوم دوست.
افغانانو د تاریخ په اوږدو کې د سختو شرایتو په موجودیت سره سره خپله آزادي ساتلې او برسیره پردې چې اوس دې ملکو، په تیره بیا ایران، ځینو خرڅ شۇ عناصرو باندې زیات مصرف کړی او کویې خو هغوی به ونشي کولای چې د ملت د قهر، د سیلاب مخه ونیسي. آیا زمونږ پلرونو او نیکونو، زمونږ د نړې په دې برخه کې، برسیره د هغو بد خواه او دښمنو امپراتوریو په موجودیت سره، د دوې په وخت او زمان کې، د ویاړه ډک ژوند نده کړی؟ آیا مونږ هغو ته خپله برلاسي نه ده ښودلې؟ که مونږ اوس ددې شرایتو په موجودیت سره په خپله ونشو کړای چې خپل ملک و ساتو نو حق ددې لرو چې دیوه ملت په صفت پاتې شو؟
تر اوسه ډیرو وروڼو او خویندو چې د امریکې دهډو په هکله لیکنې کړي د هغو ګټو او تاوانونو ته یې ګوتې نیولې دي. هغه وروڼه او خویندې چې د داخلي اغتشاشونو او ګاونډیو هیوادو نه هیره لري، زړه نا زړه امریکې لپاره دهډو جوړول ضروري ګڼې او فکر کوي چې ممکن ګاونډي هیوادونه ور څخه وهیرېږي او کورنیوجنګونو ته هم د پای ټکی کیږدي. د بلې خوا نور چې د هډو سره مخالف دي وایي چې دا هډې همدا اوس شته او د کابل حکومت کوم مامور نشي کولای چې د بګرام، شین ډنډ، کندهار او دهدادي هډو ته بې له اجازې ورننه ؤځي، لکه چې درې کاله پخوا چې سپنتا د بهرنیو چارو وزیر ؤ او د غاښو د تداوې لپاره غوښتل یې چې بګرام ته ورننه وځي، له دروازې نه بیرته را وګرزول شو حال داچې یوه افغانه جلې چې امریکایي پاسپورټ یې درلود، او دا قصه یې ماته وکړه هغې ته د ننوتو کوم مشکل نو.
د هډو د جوړیدو مخالفین زیاتوي چې د هغو په جوړیدو سره د موجوده داخلي نارامیو او د ګاونډیو هیوادو مخه نیول کیدای نشي، ځکه په دې برخه کې امریکا او ایتلافي ځواکونو یې لس کاله وخت درلود څه یې وکړل چې وروسته له دې یې وکړي؟ بل حقیقت دادی چې امریکایان دا هډې د خپلو معلوماتو د ټولولو لپاره جوړوي نه زمونږ د پیره دارۍ لپاره. په هغو ملکو کې چې دوی د نورو امنیت په غاړه واخلې نو بیا مصارف یې هم په هغو ملکو اچوي. د مثال په ډول جاپان هر کال امریکې ته د چین او شمالي کوریا د هیرې له امله، د څلورو بلیونونه زیات ډالر د دوی د عسکرو او د هډو د نورو مصرفونو له امله ورکوي.

بل مهم حقیقت چې ورباندې ډیر بحث ندی شوی د دایم لپاره ددې هډوغوښتنه ده. سوال دا دی چې آیا دا نسل چې د خپل حماقت او جهالت له امله دېې حالت ته راغلي چې د خپل ملک د یوې برخې په ورکولو سره غوارۍ د خپلو غلطیو مخه ونیسي، ددې حق لري چې د راتلونکو نسلونو لپاره تصمیم ونیسي.؟ په جاپان کې د دوهمې نړۍ والې جګړې په پای کې د امریکې په هډو موافقه وشوه خو اوس ځوان نسل یې مخالف دې او وروسته د سر اقتدارګوند ۶۰ کلن حکومت په دې بایلوده چې د یوه کوچني ګوند مشر په ټول ټاکنو کې وویل چې که هغوی په قدرت راشي دا هډې به ړنګې کړي. خلکو هغو ته رایې ورکړی، خو څرنګه چې هغوی دا وعده په ځای نشوه کړی، نو قدرت یې د یوه کال په ننه کې بیرته له لاسه ورکړ.

بله موضع چې افغانانو ډیرې خبری ورباندې نه دي کړي هغه دا چې حامد کرځي شپږ کاله پخوا بوش حکومت ته ددې هډو د جوړیدو اسناد لاس لیک کړي دي. خو امریکایان د هغې تجربه نه چې یې لري په دې تیرو کالونو کې زمینه برابروله تر څو دا اسناد، د ملت په نماینده ګانو لاس کړي. په دې کې شک نشته چې پدې قلابي پارلمان کې، چې د افغانستان اکثریت خلکو رد کړی، هغو لاس درلود ترڅو داسې ډلې ټپلې په کې راټولې کړي چې د هډو د


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

جوړيدو بيرغونه په پارلمان کې را پورته کړي. خو د ۵۲ په اصطلاح وکيلانو چې په اغلب ګومان ټول بې ددې هڅو طرفداران دي خوارکي کرزی ته، ددې (پارلمان) د پرانستلو په شان، يوه معما ګرځيدلې چې د اختصاصي محکمې د رپوټ په خپريدو او ياهم ددې محکمې په رنګيدو تصميم ونيسي او که نه.

زما په اند دا هڅې، بې له دې چې افغانان د مصر او نورو عربو ملکو په شان را وانه پاڅيږي، هرو مرو جوړيدونکې دي، ځکه پارلمان غړو ته څوک په ډالرو معاش ورکوي.؟ د اردو او پوليسو يؤلس بليونه ډالره بودجه څوک ورکوي؟ د حکومت دا بودجه چې د داود خان له وخته سل چنده زياته شوې او بيا هم د لسو مليونو نه ډير خلک د لوږې سره مخامخ دي د ملک د کومو محصولاتو او صادراتو له پيسو نه پوره کيږي؟ نو دوی به څرنګه وکولای شي د هغه چا خواهش ددې هڅو په هکله، چې ددوې معاش ورکوي رد کړي؟

يواځينې لاره چې ممکن زمونږ د ملک ډيرو خواو ته د قبول وړ وي دادی چې له دې معاهدې نه د دايم ټکی ويستل شي او د لسو يا پنځه لسو نورو کالو لپاره ورته د دوام اجازه ورکړ شي.

روسانو ولې حفيظ الله امين ؤ وږلو او د خلقيانو په عوض بې پرچميان په قدرت راوستل؟ ځکه چې امين حاضر نه ؤ چې د شين ډنډ هواي ډګر هغو ته تسليم کړي. لکه چې په ۱۹۷۹ کې دخوميني طرفدارانو د امريکا سفارت ونيؤ او ډيپلوماټان بې يرغمل کړل نو روسان مطمئن ؤ چې د نړيوال دوهم جنګ په شان امريکا به د ايران جنوب ونيسي او روسان به بې شمال. څرنګه چې دوی په کابل کې خپل کمونستي حکومت تينګ کړی ؤ نو ورته آسانه به وي چې برسيره په شمال د ختيځ له لورې هم په ايران ورشي او ددې لپاره بې شينډنډ ته ضرورت درلود خو امين ورته وويل چې ملت به د خپلې خاورې يو انچ هم بل چاته و نه مني.

د هڅو د جوړيدو ځينې ملاتړي تشويش لري چې د بهرنيو ځواکونو به وتلو سره به داخلي مخالفتونه اوج ته ورسيږي او که هڅې دلته وي مخه به بې ونيول شي. آيا په دې لسو کالو کې د زرهاو خارجي عسکرو او قراردادينو په موجوديت سره دا مخالفتونه حل شوي او که زيات شوي دي؟ دا مخالفتونه چې شته بايد پخپله افغانان بې حل کړي.

هيڅوک زمونږ مخالفتونه زمونږ لپاره نشي حل کولی. په لبنان کې وروسته د ۱۷ کالو مذهبي، فرقېې اوژبني جنګونو نه صلحې ته سره راضي شول. افغانان د شوروي د ځواکونو له ماتې نه دادی ۲۲ کاله کيږي چې خپل منځي مشکلاتونه لری او لاهم لمن ورته وهل کيږي. دا چه ولې دا جنګونه او مخالفتونه دومره اوږده شوي، يو دليل بې هم دادی چې مونږ لبنانيانو په شان تعليم يافته او د لرې ديد خاوندان نه يو.

افغانان بايد د لرې مودې په نظر کې نيولو سره د امريکې سره کومه دښمني ؤ نه لري. اوس افغانانو او امريکايانو سره وپيژندل. دواړه هيوادونه د خپلو آزاديو سخت ملا تړي دي. د افغانستان جغرافيايي موقعيت، د خلکو آزادي غوښتونکې روحيه او زمونږ سرشاره طبعي زيرمې (چې څو مياشتو کې به بې مکمل رپوټ خپور شي) د امريکا په ګټه دي. د بلې خوا د امريکا دوستي ديوه زبرځواک په صفت او دهغو علم او صنعت زمونږ په ګټه ده. ددې دواړو په تبادلې سره، دواړه ملکونه کولای شي چې له يوه بل سره سرلوړی، د دواړو ملکو په ګټه د اخلاص او برابرې اړيکې ولري. زمونږ ملک به پر مخ ولاړ شي او زمونږ د خلکو د رسېدو او د ژوند دسوبې د لوړيدو امکانات به برابر شي. ضمناً د امريکې صنعتي ماشينو ته به زمونږ داسې زيرمې هم، چې په نړۍ کې نادرې دي ور ورسيږي.

اوس د امريکا سياسی او نظامې حلقې دې نتيجې ته رسيدلې چې د جنګ له لارې په افغانستان کې آرامي نشي راتلی ځکه هم غواړي چې له مخالفينو سره خبرې وکړي چې دا يو نيک او پرځای فيصله ده. مونږ افغانانو ددې جنګ له پيل نه د خبرو له لارې د مخالفت د حل کولو غوښتنې کړی دي او خوښ يؤ چې امريکايان هم اوس دې نتيجې ته رسيدلي دي.

و من لله توفيق


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ